USAID | AFGHANISTAN
FROM THE AMERICAN PEOPLE

# له هڅې تر بریا پورې :د لاسي صنایعو روزنیزو دورو له لارې د افغان میرمنو پیاوړتیا

په افغانستان کې لاسي صنایع یوازې محصول نه ګڼل کیږي. دا صنعتونه د افغان ملت د بډایه کلتوري هویت ښکارندویي کوي او د هیواد په اقتصاد کې مهم ځای لري. ښځې په دې برخه کې مرکزي رول لوبوي او داسي دودیز هنرونه رامنځته کوي چې د کورنیو او ټولنو ملاتړ کوي. د څرمن صنعت په ځانګړې توګه د افغان میرمنو لپاره ثابت عاید او د کار زمینه برابروي.

خو په افغانستان کې ښځې د بیکارۍ له لوړې کچې او د کار له محدودو فرصتونو سره مخ دي. دا محدودیتونه په هغو سکتورونو کې چې د دوی مهارتونه کیدای شي ګټور وي لا زیات دي. د تکړه کارکونکو د کمښت له امله د لاسي صنایعو یو زیات شمیر شرکتونه نشي کولی چې دخپل تولیداتو کیفیت زیات کړي او ودې ته ورسیږي. د دې ننګونو د حل لپاره، د متحده ایالاتو د نړیوال پرمختګ ادارې (USAID) د افغانستان د ارزښت زنځیرو پروګرام (AVCP) د جامو د یو سیمه اییز شرکت سره د یوې درې میاشتنۍ روزنیزې دورې تطبیقولو لپاره هوکړه وکړه. په دې دوره کې ۵۰ ښځینه زده کونکې برخه اخلي او نوي مهارتونه زده کوي.

۲۸ کلنې نبیلې چې د څلورو ماشومانو مور او د دولسم ټولګي فارغه ده له سختو مالي ستونزو سره لاس او ګریوان وه. د نوموړې د میړه عاید چې د کابل په منډوي کې د لاسي کراچۍ څخه یې ترلاسه کاوه کافي نه و او د دوی د ماشومانو د زده کړې لګښت او نور اساسي اړتیاوې نه پوره کولې. نبیلې چې دوه ماشومان یې په ښوونځي کې دي اکثره د ژوند د اړتیاوو د برابرولو په برخه کې له ستونزو سره مخ وه.

له همدې امله، نبیلې د څرمن د طرحې او تولید د یو شرکت په روزنیزه دوره کې برخه واخیستله. د ۱۵۰ ډالره معاش په مرسته چې نبیلې د زده کونکې په توګه له دې دورې څخه یې ترلاسه کوي د هغې د کورنۍ وضعیت ډیر زیات ښه شوی دی. نوموړې دخپلې منندویي مراتب داسې څرګندوي، « د د زده کونکې په حیث له دې شرکت سره یو ځای کیدل او د معاش ترلاسه کول زما او زما میړه سره ډیره مرسته وکړه. موږ اوس خپل معیشت په اړه کومه اندیښنه نه لرو، ځکه چې کولی شو دخپلې کورنۍ اساسي اړتیاوې پوره کړو. همداراز هغه پیسې مو چې د دې رونیزې دورې په ترخ کې ترلاسه کړې موږ ته د مالي خوندیتوب احساس راکوي.» د دې روزنیزې دورې په پای کې، نبیلې هیله لري چې په کوربه شرکت کې د بشپړ وخت دنده ترلاسه کړي.

د نبیلې کیسه د متحده ایالاتو د نړیوال پرمختګ ادارې (USAID) د افغانستان د ارزښت زنځیرو پروګرام (AVCP) د بدلون راوړونکي رول په داګه کوي. د لاسي صنایعو په سکټور کې د پانګونې او د ښځو په پیاوړولو سره، افغانستان کولی شي د اقتصاد په دګر کې مهم پرمختګونه ترلاسه، کلتوري میراثونه خوندي او یوه ټول شموله ټولنه رامنځته کړي. د دوامدار ملاتړ او هدفمندو روزنیزو فعالیتونو له لارې، دا پروګرام اقتصادي وده هڅوي او ښځې پیاوړې کوي ترڅو د خپل ځان او کورنۍ لپاره ښه راتلونکی جوړ کړي.

د ۲۰۲۴ کال تر مې میاشتې پورې، د متحده ایالاتو د نړیوال پرمختګ ادارې (USAID) د افغانستان د ارزښت زنځیرو پروګرام (AVCP) په ۱۳ مهمو شرکتونو کې چې د الیاف، کرنیزو محصولاتو، لبنیاتو او لاسي صنایعو په برخو کې فعالیت کوي، ۷۵۳ ښځینه زده کونکې ځای پر ځای کړي، چې تر دې دمه ۳۴۰ یې روزنیزه دوره پشپړه کړې ده. د افغانستان د ارزښت زنځیرو پروګرام (AVCP) تر پایه به ۱۶۰۰ ښځې په دې روزنیزو دورو کې راجذبې شي.

**د افغانستان د ارزښت زنځیرو پروګرام (AVCP) له کرنیزو سوداګریو سره په ملګرتیا کې د الیاف د ارزښت زنځیرو اړوند دندو د زده کولو له لارې ښځې پیاوړې کوي او د مهارتونو او کار موندنې فرصت ورته برابروي.**


د انځور د امتیاز حق: AVCP

نبیلې د کوربه شرکت په کارخونه کې پر بوټانو د سرېښ وهلو پر حال

**نبیلې وایي، « د د زده کونکې په حیث له دې شرکت سره یو ځای کیدل او د معاش ترلاسه کول زما او زما میره سره ډیره مرسته وکړه. موږ اوس خپل معیشت په اړه کومه اندیښنه نه لرو، ځکه چې کولی شو دخپلې کورنۍ اساسي اړتیاوې پوره کړو. همداراز هغه پیسې مو چې د دې رونیزې دورې په ترخ کې ترلاسه کړې موږ ته د مالي خوندیتوب احساس راکوي.»**